# پښتو او منډاري

## Comparative study of Pashto and Mundari Language

ډاکټر اسماعیل ګوهر*

**Abstract:**

Munda tribes are considered to be the most ancient and native inhabitants of India and original inheritors of Harappa and Moinjodaro civilization. Languages of Munda group are included in pre Dravidians languages. Researchers of the view that Munda tribes had not only pushed to dense forests of southern India by Dravidians but they had also inhabited in mountains area of North West. Area of North West is dwelling of Pashtuns. In this article the coherence between Pashto and Munda languages and similar features of both languages been analysed.

د قدیمي اثارو د ماهرینو په نزد د هړپه او موئن جودړو د اثارو نه ترلاسه شوي اثار د اریائي تهذیب نه پخواني اثار دي. او په دغه بنیاد په برصغیر کښې د دراوړ قبیلو نسلي تعین وکړی شو او د اریائي تهذیب نه پخواني اثار د دراوړو اثار او پخوانۍ ژبې دراوړي اوګرځولی شوې. خو د دراوړو باره کښې هم عام طور سره دا خبره تسلیم کړی شوې ده چې هغوی هم ددې خاورې اوسیدونکي نۀ ؤ او د هغوی د راتګ نه مخکښې ددې خاورې اصلي اوسېدونکي مُنډا قبائل وو. د مُنډا قبیلو نسلي باقیات نن هم موجود دي.

فی زمانہ مُنڈا قبائل بھارت میں راجستھان سے لے کر بہار تک پھیلے ہوئے ہیں۔ خاص کر وسط ہند ان کے مراکز کی حیثیت رکھتا ہے۔ یہ قبائل اکثر تہذیب وتمدن کی دنیا سے دور گھنے جنگلات میں آباد ہیں۔ (۱)

ترجمه: ‹‹نن زمانه کښې مُنډا قبائل په بهارت کښې راجستهان نه واخله تر بهار پورې خوارۀ دي. خاص طور وسطي هند ددوئي د مرکز حیثیت لري. دا قبیلې اکثر د تهذیب او تمدن د دنیا نه لرې په ګُورو ځنګلونو کښې ابادې دي››.

د هند کومې قبیلې چې د مُنډا قبیلو په نوم او ژبې ئې د مُنډا ګروه ژبې په نوم پېژندی کېږي هغه د دراوړو نه پخوانۍ قبیلې دي او ددې خاورې اصلي

* Faculty Member, Department of Pashto, International Islamic University Islamabad

اوسېدونکي تسليمولی شي ۔ په مًنډا ګروه کښې کول، بهيل، سنتهال، مُنډا، ساورا، هو، کوروا، جانګ او کورکو وغيره قبيلې شاملې دي او ژبې ئې هم په دغه نومونو يادېږي ۔ ډاکټر عبد المجيد ميمن وائی:

پنجابی، سرائیکی اور سندھی زبانون میں بہت سے ایسے الفاظ ملتے ہیں جو مُنڈاری زبان کے معلوم ہوتے ہیں۔(۲)

ترجمه: (پنجابي،سرائيکي اوسندهي ژبو کښې ډېر داسې لفظونه موندی شي چې د مُنډاري ژبې معلومېږي) ۔

ددغه دريو ژبو نه علاوه د پاکستان په ګڼو ژبو کښې د منډاري ژبو الفاظ موندی شي په کومو کښې چې پښتو يوه اهمه او د مرکزی ژبې حيثيت لري ۔ د پښتو ژبې د قدامت تر مخه د پښتو او منډاري د عنوان لاندی عين الحق فريد کوټې ددې دواړو ژبو د لساني اشتراک په حقله ليکي:

"... میں یہاں صرف ایک دو مُنڈاری او پشتو الفاظ کے بارے میں گفتگو کروں گا۔اس سے میرا یہ مقصد نہیں کہ میں اس بنا پر پشتو کو مُنڈا گروہ کی شاخ قرار دے دوں بلکہ اس سے صرف یہ ثابت کرنا مقصود ہے کہ پشتو کی جڑیں بھی اس پاک سرزمین میں پیوست ہیں یا کم از کم اس میں قدیم عنصر موجود ہے"۔ (۳)

ترجمه :(... دلته صرف د يو دوه منډاري او پښتو لفظونو د اشتراک باره کښې خبره کوم ۔ ددې نه زما مقصد دا نۀ دی چې زۀ په دې اساس پښتو د منډا ګروه څانګه اوګرځوم ۔ بلکې ددې نه صرف دا ثابتول مقصود دي چې د پښتو زېلې هم په دغه پاکه سيمه کښې ښخې دي او يا کم از کم په دې کښې قديم عنصر ضرور موجود دی ۔

د عين الحق فريد کوټي ژوره لساني مطالعه په منډاري ژبه کښې د پنجابۍ لټون ؤ او هم په دغه بنياد هغه د پنجابۍ او اردو زېلې په امري نال تهذيب کښې د لټولو زيار کړی دی ۔ د هغوی مقصود د پنجابۍ او منډاري ژبو دلساني اشتراک مطالعه وه او په دغه مطالعه کښې ئې دا حقيقت هم د نظر لاندې ؤ چې د دراوړو د راتلو نه پس منډا قبيلې نۀ يوائې د جنوبی هند ګُورو ځنګلونو ته اوشړلی شوې بلکې د هند شمال مغربي غرونو ته هم راؤختې او دغې د پاره فريد کوټي پښتو ته هم اشاره اوکړه ۔ پښتو او منډاري کښې د لساني اشتراکاتو يوه لويه برخه موجوده ده ۔ فريد کوټي چې د پنجاب نه په زرګونو ميلونو لرې د رانچي او چهوټا ناګپور په مُنډا قبيلو کښې د منډاري او پنجابي لساني اشتراک لټوي نو که مونږ دغه لسانی اشتراک د پښتو په وسيله په

پنجابۍ او اردو کښې تسلیم کړو نو دا به په تاریخي او جغرافیائي حواله حقیقت ته زیاته نژدې لساني رویه وی ځکه چې منډا قبیلې د پښتونخوا غرونو ته هم راختلې وې.

خیبر پښتونخوا کښې د مُنډا په نوم دوه ځایونه موجود دي او دا نومونه د مُنډا قبیلو باقیات معلومیږي. یو ځای د ثمر باغ او جندول په جنوب کښې د دیر په علاقه کښې د تیمرګره نه دیارلس کلو میټره دی. دویم ځای د پېښور په خوا د شب قدر فورټ په شمال کښې د ابازۍ دریاب په اوچته علاقه کښې دی. دا قبائلي علاقه ده او منډا ډېم ددغه ځای په نوم مشهور دی.

دپښتو او مُنډاري مشترکه لساني پنګه د مُنډا قبیلو پښتونخوا ته د راتلو ثبوت دی. ګریئرسن هم ددې نشاندهي کړې ده او د پښتونخوا لساني محققین هم د مُنډا قبیلو دلته د راتلو تاریخي حقیقت تسلیموي.

"گریئرسن اور دوسرے محققین کی یہ بات بہت صحیح ہے کہ مُنڈا قبائل کا دائرہ عمل ایک وقت میں بہت وسیع تھا. وہ نہ صرف مشرق کی جانب گھنے جنگلات کی طرف دھکیل دیئے گئے بلکہ مغرب کی جانب دریائے سندھ سے ماورا دشوار گزار پہاڑی علاقوں میں بھی دھکیل دیئے گئے. چنانچہ ہمیں صوبہ سرحد کے پہاڑی آزاد قبائل کے علاقوں میں ان کے نام کی باقیات آج بھی ملتی ہیں"(۴)

ترجمه: (د ګریئرسن او د نورو محققینو دا خبره ډېره صحیح ده چې د مُنډا قبیلو دائره عمل په یو وخت کښې ډېره وسیع وه. هغوی نۀ صرف د مشرق په لور ګُورو ځنګلونو ته اوشړلی شول بلکې د مغرب په لور د اباسین نه پورې ګرانو غرئیزو سیمو ته هم دیکه کړی شول. او ځکه مونږ د خیبر پښتونخوا په غرئیزه ازاده قبائلي علاقه کښې د هغوی د نومونو باقیات نن هم موندی شو).

د مُنډا ګروه په ژبو او پښتو کښې ډېره لفظي پنګه مشترک ده. ددې ګروه په جوانګ ژبه کښې ورور د پاره کاکو او ساورا ژبه کښې د کاکي ټکی استعمالیږي. پښتو کښې ماشوم د پاره کاکا او ماشومې د پاره د کاکۍ ټکی عام استعمالیږي. د مُنډا ګروه یوه بله ژبه کورکو کښې انبنګ اسم ضمیر دی چې پښتو کښې مونګ استعمالیږي. یو بل ټکی په کورکو ژبه کښې ابونجا دی او پښتو کښې زمونږه دی. په مُنډاري او سنتهالي کښې پیشو ته پوسي وایي. په جوانګ ژبه کښې پلار ته بابا او کورکو ژبه کښې ابا وئیلی شي. عین الحق فرید کوټي چې د مُنډا ګروه د ژبو کومه لفظي سرمایه راغونډه کړې ده په هغې کښې

لویه برخه د پښتو سره شریکه ده ۔ دلته د نمونې په طور یو لنډ شان فهرست وړاندې کوم۔

| پښتو | مفهوم | مُنډاری لفظ |
|---|---|---|
| اره | د لرګي غوځولو اره | آرا |
| اړ | سیلۍ نه بچکېدو د پاره د کپړې وغیره پرده | آړا |
| اکه بکه | حیرانه پرېشانه | آکا باکا |
| اټکل | سوچ کول، پوهېدل | اټکار |
| اټاؤ، اټکاؤ | منع کول حیصارول | اټکاؤ |
| اګاهو | د وخت نه مخکښې | اګوتر |
| بامبړه، لمبه | د اور لمبه | بامبارو |
| بکیانه | د یوې ونې نوم | بکائن |
| برخه | برخه، حصه | بکهرا |
| بُوس | بوُس | بوسه |
| د لرګي یا د اوسپنې صندوق | د بانس د څانګو جوړه ټوکرۍ | پیټۍ |
| پوس، پوست | پوس، نرم | پهوسو |
| پیړۍ، صدۍ | نسل | پیړهی |
| جوپړه، جونګړه | جونګړه | جهوپړی |
| چاټی | د خاورې لوخی، منګی | چاټو |
| څپر | وړوکی څپر | چپری |
| ګُړه | ګُړه | ګُړ |
| لو کول، فصل رېبل | وابښهٔ وغیره رېبل | لا |
| لپه | لپه | لپ |
| ماسی، ماشو | ماسی، ماشو | موسی |
| ماما | ما ما | ما ما |
| مامی | مامی | مامی |
| سانډو | د خښینې خاوند | سانډهو |
| دالان | دیوالونو کښې دننه انګڼ | دالان |

| | | |
|---|---|---|
| دھوڑ | دُوړه، گرد و غبار | دُوړه |
| دیپا | یو اوچت ځای | ډپه، ډبه |
| ډنډا | ډنډا | ډنډا |
| نتھ | د پوزې کالی | نت، نتکۍ |

اسمونو سره سره په افعالو کښې هم د اشتراک مثالونه موندی شي چې یو څو ترې نه دلته درج کولی شي۔

| منډاري | مفهوم | پښتو |
|---|---|---|
| اټکار | سوچ کول، پوهېدل | اټکل |
| اټکاؤ | منع کول حیصارول | اټاؤ، اټکاؤ |
| اړاؤ | ضد کول، پرواه نۀ کول | اړ کول، اړې کول |
| پسراؤ | خورول | پسورل، خورول، خپرول |
| پوس | پرورش کول | پوسل، پالل |
| جھلکاؤ | ځلېدل | جلېدل، ځلېدل |
| چاکا | ذائقه څکل | چکل، څکل |
| دبکاؤ | پټ کښېناستل | دپکه، دباؤ<br>د ویرې نه پټ کښېناستل |
| لاه | کوزول، ښکته کول | لاندې، لاندې کول |
| مانجاؤ | مانجول | مانجول |
| لا | واښۀ وغیره رېبل | لو کول، فصل رېبل |

منډاري ژبو کښې د شمېراهمه اکائي "شل" ده۔ پخوا به د لاسونو په لسو گوتو شمېر کولی شو او کله به چې شمېر د لسو نه زیات شو نو د پښو لس گوتې بۀ هم ورسره شاملې کړی شوې او دا شان د شلو عدد دشمېر د یوې اکائي په طور استعمالېدو ۔ فرید کوټي پنجابۍ کښې هم ددې اکائي د استعمال نشاندهي کړې ده خو حقیقت دا دی چې دا اکائي د پنجابۍ سره سره د پاکستان په اکثرو ژبو کښې مستعمل ده ۔ په دوی کښې پښتو، بلوچي، هندکو گوجري، شنا، بلتي، بروشسکي، وخي، توروالي، گاؤري او کھوار وغیره ژبې شاملې دي ۔پښتو کښې شپږ شلې، اووۀ شلې او اتۀ شلې نن هم د حساب کتاب د پاره وئیلی کیږی۔ دا اکائي پښتو کښې په محاوراتي سطح هم استعمالولی شي لکه: "شل

دې نۀ کړه "یعني کار دې تمام نۀ کړو او یا مقابله دې اونۀ کټله۔ یا "دنیا چا شل کړې ده" یعنی د دنیا کارونه هیڅ څوک نۀ شي ترسره کولی۔ هر څۀ نیمګړې پاتې شي ۔ لنډه دا چې د مُنډاري ژبو کومه لساني پنګه چې نن پښتو کښې موندی شي نو دا په دغه سیمه د مختلفو ژبو د یو بل نه د ا خذ او قبولیت مثالونه دي۔

فرید کوټي د پښتو اومنډاري په لساني اشتراک کښې د یو لفظ ډاګ مثال وړاندې کړی دی او لیکي:

"مُنڈاری میں پانی کے لئے ڈا،ڈاہ اور ڈاک. سنتھالی میں ڈاھا اور ڈاک کے الفاظ مستعمل ہیں۔یہی الفاظ چشمہ، نہر اور تالاب وغیرہ کے معنی بھی دیتے ہیں۔۔۔ صوبہ سرحد میں جہاں پشتو کا چلن ہے یہ نام بعینہ مُنڈاری کی طرح مستعمل ہے۔جیسے کہ لنڈی ڈھاگ (لنڈی: چھوٹی،ڈاگ:نہر، چشمہ وغیرہ) ڈاگ بیسود،ڈاگ اسمٰعیل خیل اورڈاگی جدید وغیرہ"۔ (۵)

ترجمه: (منډاري ژبه کښې اوبو د پاره ډا ، ډاه او سنتهالی ژبه کښې ډاها او ډاک لفظونه مستعمل دي۔ دغه لفظونه د چینې،نهر او تالاب وغیره معنٰی هم راکوي۔ .. صوبه سرحد کښې چرته چې پښتو وئیلی کیږي دا نوم بعینهه د منډاري ژبې په شان مستعمل دی لکه: لنډی ډاګ (لنډی: وړوکی، ډاګ: نهر چینه وغیره) ډاګ بېسود ، ډاګ اسماعیل خېل او ډاګی جدید وغیره۔

د فرید کوټي دې لساني وضاحت سره اتفاق نۀ شي کېدی چې پښتو کښې ډاګ د چینې یا نهر په معنو کښې استعمالیږي۔ ډاګ ( اسمِ مذکر) هوارې، وسیع او خالي پرتې زمکې ته وئیلی شي چې اسمِ مونث ئې ډاګه دی۔ د ډاګ جمع ډاګونه او د ډاګه جمع ډاګې دی۔ مرکب لفظ ډاګه ډګلې ( اسمِ صفت ) بغیر چت نه ځای ته هم وائي او د دروازې چې دواړه تمبې پرانستې وي نو داسې دروازې ته هم ډاګه ډګلی وئیلی شي۔ دغه شان ډاګی هاغه سړي ته وائي چې بې باکۍ سره واضحه خبره کوي۔ ډاګېدل ( لازم مصدر) د زمکې له پاسه نه د اباد‍ۍ لرې کېدو ته وائي چې خالي میدان پاتې شي۔

دمُنډا قبیلو ځینې رسمونه هم د پښتنو په مختلفو قبیلو کښې نن هم موندی شي لکه:

۱ : مُنډا قبیلو کښې چې څۀ وخت ناوې کور ته راوستی شي نو د هغې خوابنې په هغې اوبۀ غورځوي۔ پښتونخوا کښې چې نوی ښاروی کور ته راوستی شي نو

د کور مېرمن خپل د سرو کالی په اوبو کښې ډوب کړي او هغه اوبهٔ په څاروي وغورځوي۔ دې ته د سرو اوبهٔ وائي-

۲ : مُنډا قبیلو کښې د چاولي هیپر رسم هم ډېر مشهور دی۔ خوابنې په خپلې اېنگور(نږور) وریژې غورځوي۔ د پښتونخوا کومو سیمو کښې چې وریژې پېدا کېږي نو هلته هم وریژې او شینکی په ناوې غورځوي۔ د وریژو او شینکي شیندلو ذکر د پښتو په اولسي سندرو کښې هم موندی شي۔

لکه د محمدي نور د یوې سندرې دا بند:

بلې یوې ښځې راله راوړلو غلبېل
ښې وې پکښې وریژې پاکې شوې په راشپېل
څو موټې مې وړاندې وروستو ونوستل ځانې
ورک دې ناوېتوب شي خانې

۳: منډا قبیلو کښې د وادهٔ په موقع د "وادارم ټکا" رسم چې ښځې د جنجیانو لار ونیسي، څهٔ پېسې ترې واخلي او پسته ئې د ناوې تر کوره پرېږدي۔ او یا دا چې د وادهٔ په موقع خپلو خپلوانو ته "لیجا" یعنې جامې جوړې یا څادرې ورکوي،دا رواجونه هم په څهٔ نه څهٔ شکل کښې په پښتونخوا کښې موجود رسمونه دي۔ دا رسمونه په زړو اریائي معاشرو کښې لږ ډېر فرق سره مشترک معلومېږي چې یو قوم او یوې ژبې سره ئې تړون صحیح نهٔ دی۔

***

# حوالي

(1) عین الحق فرید کوٹی، اردو زبان کی قدیم تاریخ، لاہور، اوریئنٹ ریسرچ سنٹر، طارق کالونی ملتان روڈ، طبع اول جون ۱۹۷۲ء، ص۹۸

(2) عبدالمجید میمن، ڈاکٹر، لسانیات پاکستان، مقتدرہ قومی زبان، اسلام آباد. ۱۹۹۲ء، ص۴۸

(3) اردو زبان کی قدیم تاریخ، ص،،۱۲۱، ۱۲۲

(4) خاطر غزنوی، اردو زبان کا ماخذ ہندکو،، مقتدرہ قومی زبان اسلام آباد، طبع اول، ۲۰۰۳ء، ص۳۹

اردو زبان کی قدیم تاریخ، ص۱۲۳، ۱۲۴